# فرصتونه او ورسره انتخابونه

## له ۲۰۱۵ نه تر ۲۰۵۰ میلادي کال پورې د ښار پرمختیايي لارښود له پاره سناریوګانې

د مباحثې دا پاڼه، د ښاري ملي پالیسۍ د یوې برخې په توګه چې د ښاري لومړیتوبونو له ملي پروګرام (U-NPP) سره سمون ولري د فضايي ملي ستراتیژۍ (NSS) د رامنځته کېدو لومړنۍ مفکوره رانغاړي. د دې سند موخه دا ده چې په ۲۰۱۵ کال کې له شاوخوا ۸ میلیونه څخه نیولې او په ۲۰۵۰ کې تر ۲۶ میلیونه ښاري نفوس له پاره د فضايي پرمختیا د طرز په برخه کې د لارښوونو پر سر خبرې پیل شي. په دغه لنډ سند کې د ۲۰۳۰ او ۲۰۵۰ کلونو په ترڅ کې د ښاري نفوس وړاندوینه د فضايي نفوس په درېیو بېلګو کې وړاندې شوې ده. په دې کې د فضايي پرمختیا او له ملي فضايي ستراتیژۍ سره د اړیکو په برخه کې د هرې بېلګې ښېګنې او زیانونه روښانه شوې دي چې سیمه اییز متوازنه پرمختیا، د افغانستان له پاره د فرصتونو د غوړېدنې له لارې د اقتصادي ودې خوځښت لکه نړیواله سوداګرۍ او د ښار او کلي د اړیکو غوښتنه کوي.

۱۰ مه شمېره توضیحي سند، ۲ مه لړۍ، -۲۰۱۶ ز کال

### د افغانستان د ښاري نفوس وده

په ۲۰۱۵ کال کې د افغانستان ښاري نفوس ۸.۲ میلیونه تنو ته ورسېد، چې په منځنۍ کچه یې کلنۍ وده ۴۳۰۰۰ کورنۍ ګڼل کېږي. تمه کېږي چې ښاري نفوس تر ۲۰۳۰ مېلادي کال پورې ۱۵ مېلیونو او تر ۲۰۵۰ مېلادي کال پورې ۲۶ مېلیونو ته ورسېږي. هغه کلیوالي نفوس چې د ښار او کلي په څنډو (د پنځو مهمو ښارونو له ۱۰ څخه تر ۲۵ کیلو متره څنډو) کې ژوند کوي، تر ۲۰۱۵ مېلادي کال پورې ۵,۱ مېلیونه اټکل شوی دی (۱ جدول) د ۵ ښاري سیمو کلي له دې ښارونو سره د سوداګرۍ او خدمتونو له پلوه دوه اړخیزې نږدې اړیکې لري.

ښاري بېړنۍ وده او په غیر رسمي او غیر پلاني ښاري سیمو کې ناوړه اقتصادي شرایط د دې لامل ګرځېدلي چې د چاپېریال ساتنې، اقتصاد او پلانګذارۍ په برخو کې دولت له ننګونو سره مخ شي. دې ته په کتو سره چې تمه یې کېږي په راتلونکو لسیزو کې ښاري نفوس څه اندازه په لوړه کچه پرمختیا ومومي، نو د فضا د توازن له پاره د یوې ستراتیژۍ چمتو کول او د سیمه اییز پرمختګ له لارې د هېواد په بېلابېلو برخو کې تر وس او توان پورې د فرصتونو رامنځته کول مهم او اړین ګامونه ګڼل کېږي.

په ټاکلو ستراتیژیکو سیمو یا بندرونو کې د پرمختیا د ترویج په موخه باید ښارونه په بېلابېلو کچو وده وکړي. د متوازنې سیمه اییز پرمختیا او ښاري سیمې ستراتیژي د اقتصادي ودې او د دندو په رامنځته کېدو کې حیاتي ارزښت لري او باید ټولنیز، اقتصادي او د چاپېریال موخې ونغاړي. د ملي فضايي ستراتیژۍ یوه شوني موخه به (پایېدونکي متوازن انکشاف) ته رسېدل وي تر څو اقتصادي او سوداګریز (نړیوال) فرصتونه زیات، سیمه اییز توازن مروج، ښاري متراکمه وده ترویج، د کلي او ښار اړیکې پیاوړې او زیاتې، د کرنیزو زونونو او ایکولوژیکو سیمو ساتنه او همدارنګه د پیاوړیو او هر اړخیزو بندرونو، ښارونو او پیاوړیو هستوګنځیو رامنځته کول را ونغاړي. دې ته اړتیا ده چې حکومت په ډېرې علاقه مندۍ سره خپل نفوذ د فضای راتلونکی فعالیتونو لپاره وقف کړي.

### ښارې سیمې؛ د پرمختګ مخته وړونکې

د افغانستان په پنځو لویو ښارونو او لرې پرتو سیمو کې د اټکل له مخې د ۱۰.۷ – ۱۱.۸ میلیونو وګړي چې (نږدې د افغانستان د ټول نفوس یو پر دریمه برخه) کیږی شتون لري.

یوازې د کابل ښار سیمه تر ۹ ښاروالۍ او په ټولیزه توګه د ۴.۸ – ۵.۵ میلیونو اټکلې نفوس لري. د نورو ښارې سیمو شاوخوا ساحو کې زیات شمیر خلک ژوند کوي (۱ جدول)[4].

ټول پنځه ښارې سیمې کولای شي چې د اقتصادي کچې او نړیوالو اړیکو له معیار څخه ګټه پورته کړي. په داسې حال کې چې د ودې په مخته وړلو کې د سیمو توپیرونه شتون لري او ښارې مرکزونه د لویو کرنیزو سیمو په واسطه احاطه شوي دي.

### لمړی جدول: د ښاری سیمو نفوس

| ښارې سیمه | ښاروالی | په ۲۰۱۶/۲۰۱۵ کال کې د (۱۰۰۰) له مخې نفوس | | |
|---|---|---|---|---|
| | | ښاري[5] | د ښارونو شاوخوا[6] | مجموعی ښارې سیمه |
| کابل | کابل، چاریکار، جبل سراج، محمود راقي، قره باغ، شکردره، میربچه کوت، پل علم، میدان ښار | ۳,۹۱۹ – ۳,۲٦٦ | ۱,٥۷۰ | ٥,٤۸۹ - ٤,۸۳٦ |
| جلال آباد | جلال آباد، شینواري، تورخم | ٤۱۰ - ۳٤۲ | ۱,۱۹۹ | ۱,٦۰۹ - ۱,٥٤۱ |
| کندهار | کندهار، ارغنداب، پنجوایي، ژېړی | ٦۲۹ - ٥۲٤ | ٦۷۹ | ۱,۳۰۸ - ۱,۲۰۳ |
| هرات | هرات، انجیل، ګذره | ۹٥۷ – ۷۹۸ | ۷۲۹ | ۱,٦۸٦ - ۱,٥۲۷ |
| مزار شریف | مزار شریف، بلخ | ۷٤٤ – ٦۲۰ | ۹٦۹ | ۱۱,۸۰٥-۱۰,٦۹٦ |
| په پنځو ښارې سیمو کې اټکل شوی نفوس | | ٦,٦٥۹ – ٥,٥٥۰ | ٥,۱٤٦ | |
| 41 نورې ولایتي او د ولسوالیو ښاروالۍ | | ۳,٤۰٥ – ۲,۸۳۸ | | |
| **ټول نفوس** | | **۱۰,۰٦٥ – ۸,۳۸۸** | | |

[1] GoIRA (2015) State of Afghan Cities, and GoIRA (2016) Future of Afghan Cities, (forthcoming)
[2] UN Habitat (2015) International Guidelines on Urban and Territorial Planning Principles and UN Habitat (2015) Issue Paper on Urban and Spatial Planning and Design
[3] European Commission (2001) The EU compendium of Spatial Planning Systems and Policy
[4] GoIRA (2016) Atlas of Afghan City Regions 2016. Forthcoming.
[5] Based on individual dwelling counts; with a range between 7.5 and 9 persons per dwelling (see SoAC 2015 for more information on methodology).
[6] Based on average number of Dwelling Units per hectare of residential land (DU/Ha), and assuming an average of 7.5 persons per dwelling unit.




## د فضايي پرمختيا بېلګه

د افغانستان د فضايي پرمختيا له پاره درې اصلي بېلګې شتون لري:

### الف: د تيت (شنلې) پرمختيا بېلګه

ټول ښارونه په ورته بېړه سره وده کوي، هېڅ هدفمندانه عامه او خصوصي پانګه اچونه شتون نه لري. ټول ښارونه د کليوالي – ښاري متوقع نفوس په برخه کې يو شان ونډه لري او ټمه کېږي چې د ۲۰۱۵ نه تر ۲۰۳۰ مېلادي کلونو په ترڅ کې د نفوس د ودې کلنۍ کچه ۳.۹ سلنه او د ۲۰۳۰ نه تر ۲۰۵۰ مېلادي کلونو کې ۲.۸ سلنه شي. پورتنۍ شمېرې د نړيوال ښاريتوب د وړاندوينې په بنسټ (د ۲ جدول ماخذ وګورئ) شمېرل شوې دي. له ملي فضايي ستراتيژۍ پرته او د دولت د محدودې لارښوونې په پايله کې به د افغانستان د ښاري ودې په اړه تر ټولو مجتمله وړاندوينه وي، که څه هم ځينې ښارونه لکه کابل نسبت نورو ښارونو ته په بېړه وده کړې. دغه بېلګه له مشخصو پرمختيايي فرصتونو څخه خالي ده او همدارنګه شونې ده چې له ( اندازې زيات ښاريتوب) باندې پای ته ورسېږي چېرته چې د دندو فرصتونه او زېربناوو او خدمتونو ته لاس رسی محدود وي.




لمړی نقشه : الف: د تيت (شنلې) پرمختيا بېلګه

### ب: د څو اړخيزې پرمختيا بېلګه

په دغې بېلګه کې د ۷ ښاري سيمو (کابل، جلال آباد، کندهار، هرات، مزار، کندز او تالقان) په برخه کې په متمرکزه وده راڅرخي. دغه ۷ ولايتونه يا ښاري سيمې به په (۲۰۱۵ نه تر ۲۰۳۰ مېلادي) کلونو کې ۴.۳٪ او د (۲۰۳۰ نه تر ۲۰۵۰ مېلادي) کلونو کې د نفوس د ودې د کلنۍ کچې له مخې بېړنۍ ښاري وده ولري، او نور ښارونه به د (۲۰۱۵ نه تر ۲۰۳۰ مېلادي) کلونو کې ۲.۸ سلنه او د (۲۰۳۰ نه تر ۲۰۵۰ مېلادي) کلونو پورې د کلنۍ کچې له مخې۲.۰ سلنه وده ولري. په داسې حال کې چې لوی ښارونه کولی شي چې د تراکم له اقتصادي ګټو څخه برخمن شي، مګر ګڼه ګوڼه، د بنسټيزو خدمتونو نشتوالی او د هغو کسانو له حده زيات شتون چې د دندو په لټه کې دي؛ شونې ده چې د متنوع، متوازن او د کرنيز صنعتي او سوداګرۍ په بنسټ ولاړې پرمختيا شونتياوې او فرصتونه محدود کړي. د کليوالي – ښاري کډوالۍ سره يو ځای د دوامداره طبيعي ودې کچه دومره زياته ده چې په غالب ګومان شايد د ۷ ښارونو د ودې ټمرکز د دغې ۷ ښارونو د جذب له ظرفيت څخه زيات شي.




دوهم نقشه : د څو اړخيزې پرمختيا بېلګه

### ج: د څو زونونو يا بندرونو د پرمختيا بېلګه

په دغې بېلګه کې د ۷ ښاري سيمو (کابل، جلال آباد، کندهار، هرات، مزار، هغه بېلګه چې په هغې کې په ۶ بندرونو (د لوی کابل ښاري سيمې، جلال آباد ښاري سيمې، کندهار بندر، هرات بندر، مزار بندر او شمالي بندر) کې د نفوس د ودې ټمرکز وړانديز کېږي.

د اقتصادي فعاليتونو بندر په يوه ټاکلې سيمه کې نښلوي. بندرونه د هغو اقتصادي مرکزونو تر منځ مهمې اړيکې رامنځته کوي چې د ولايتونو او ولسواليو د ننه او شاوخوا کې پراته وي. دغه بندرونه يوازې نه دي، له دې ۶ څخه يې هر يو پياوړې نړيوالې اړيکې (پاکستان، ايران، ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان) او لويې کرنيزې سيمې لري. دغه بندرونه کولی شي د ښارونو، کليو او د دوی په څنډو کې پرتو سيمو تر منځ متقابلو اړخونو ته په کتو سره نړيواله سوداګري او د امنيت تامين کې سمون راولي او کليوالي – ښاري اړيکې پياوړې کړي.
پرمختيايي بندرونه کولی شي د سمون د وسايلو او د موقعيت د ترتيب او لاس رسي ته د فعاليتونو د طرز په توګه وکارول شي. هغه مهم لاملونه چې د بندر په کړنلاره او کټګورۍ اغېزه لري عبارت دي: له ځمکې څخه د ګټې اخيستنې موارد، چاپېريال ساتنه، اقتصادي او د ټرانسپورټ لاملونه. په داسې حال کې چې مساويانه وده او د افغانستان ټولو خلکو ته د خدمتونو، تسهيلاتو او زېربناوو ته لاس رسی پيدا کول د راتلونکو لسيزو له پاره يو اوږدمهاله مقصد ګڼل کېږي، نو بايد په دې برخه کې چې په کوم ځای کې د پرمختيا تر ټولو ښه فرصتونه موندل کېږي، انتخاب تر سره شي. په ځانګړو بندرونو کې هدفمندانه پانګه اچونه د نورو ښارونو د ودې په وړاندې خنډ نه ګرځي او که چېرې فرصتونه شتون ولري، دغه ښارونه به پراختيا هم ومومي که هر څومره د دې ودې کلنۍ کچه د نورو بندرونو د نفوس په پرتله کمه وي

#### د ۶ پرمختيايي بندرونو موقعيت

که چېرې د بندر د پرمختيا بېلګه وټاکل شي نو ټمه کېږی چې له ۲۰۱۵ نه تر ۲۰۳۰ کال پورې په دغه بندرونو کې کلنۍ وده ۴.۲ سلنه او د ۲۰۳۰ نه تر ۲۰۵۰ کلونو دوره کې يې ۲.۹ سلنه وده کوي. هغه سيمې چې له دغې بندر څخه د باندې دي د کال په کچه د ۲۰۱۵ نه تر ۲۰۳۰ مېلادي کلونو کې به يې د ودې سلنه ۲.۹ او د ۲۰۳۰ او ۲۰۵۰ مېلادي کلونو تر منځ به يې د ودې سلنه ۲.۵ وي. په ۲ جدول کې د ۶ بندرونو له پاره د ښاري نفوس وړاندوينه ښودل شوې ده.

دريمه نقشه : د ښو زونونو يا بندرونو د پرمختيا بېلګه




## دوهم جدول: د بندر نمونی د نفوسو وده[7]

| منطقه | ښاروالۍ | د (زرو له مخې) ښاري نفوس | | |
|---|---|---|---|---|
| | | 2015 (7.5-9 شخص./ استوګنځي) | 2030 7.5 شخص./ استوګنځي | 2050 (7.5شخص./ استوګنځي) |
| د لوی کابل ښاري سيمه | کابل، چاريکار، جبل سراج، محمود راقي، قره باغ، شکردره، ميربچه کوټ، پل علم، ميدان ښار | ٣,٩١٩ – ٣,٢٦٦ | ٦,٠٥٤ | ١٠,٧٢٤ |
| جلال آباد | جلال آباد، شينواري، تورخم | ٤١٠ - ٣٤٢ | ٦٣٤ | ١,١٢٣ |
| کندهار | کندهار، ارغنداب، پنجوايي، ژړی، سپين بولدک | ٧٨١ – ٦٥١ | ١,٢٠٧ | ٢,١٣٧ |
| هرات | هرات، انجيل، ګذره، اسلام قلعه، غوريان، تورغونډۍ | ١,٠٧٦ – ٨٩٦ | ١,٦٦١ | ٢,٩٤٣ |
| مزار | مزارشريف، بلخ، خلم، حيرتان | ٨٠٤ – ٦٧٠ | ١,٢٤٢ | ٢,٢٠١ |
| شمالي بندر | کندز، خان آباد، تالقان، امام صاحب، شيرخان بندر، بغلان، پلخمري | ٩٢٩ – ٧٧٤ | ١,٤٣٥ | ٢,٥٤٢ |
| د ۶ بندرونو ټولګه | | ٧,٩٢٠ – ٦,٦٠٠ | ١٢,٢٣٤ | ٢١,٦٧١ |
| د ولايتونو او ولسواليو نورې ۲۹ ښاروالۍ | | ٢,١٤٥ – ١,٧٨٨ | ٢,٨٦٨ | ٤,٦٩٩ |
| ټول ښاري نفوس | | ١٠,٠٦٥ – ٨,٣٨٨ | ١٥,١٠٢ | ٢٦,٣٧٠ |

[7] UN reference, World Urbanization Prospects

## له ۲۰۱۵ نه تر ۲۰۵۰ کلنو پورې ښارې پوړ بندي

دوهم ګراف ګراف په ۲۰۵۰ کال کې د ښارونو ممکنه ښاري پوړبندي ښيي په دې شرط چې د بندر ماډل ته پراختيا ورکړل شي. د دغې شپږو بندرونو پياوړتيا به د مرکز په څنډو کې پرتې سيمې او د ولايتونو او ولسواليو د ښاروالیو په نښلولو سره د اقتصادي ودې کچه هم لوړه کړي. دغه بندرونه به په نړيواله کچه لکه د پاکستان، ايران، ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان هېوادونه هم ونښلوي چې په ترڅ کې به يې نړيواله سوداګري پياوړې، د کليوالي او ښاري اړيکو کچه لوړه، د ښارونو، کليوالي ښارګوټو او په څنډو کې پرتو سيمو يو تر بله پياوړې اړيکې مشخصې او امنيت ښه شي.

**لمړی ګراف : د افغانستان د ښارونو ښاري درجه بندی -۲۰۱۵**




**لمړی ګراف : د افغانستان د ښارونو ښاري درجه بندی -۲۰۵۰**




د نفوسو د زياتوالي په لحاظ د ښار د درجه بندی لوړيدل

د نفوسو د کموالی په لحاظ د ښار د درجه بندی ټيټيدل



## راتلونکي ته ليکنه:

- د ملي فضايي ستراتيژۍ تګلورې او ودې په اړه د دولت په داخل کې د سيمې د خلکو د استازو، خصوصي سکټور د ښاري ملي پاليسۍ په توګه او د ښاري لومړيتوب له ملي پروګرام ( U-NPP) سره اړيکې، چې د نفوس د ودې اوږد مهالو ننګونو ته د رسېدنې، د فضا ويشنې، د اقتصادي ودې او د عامه پانګه اچونې له پاره اغيزمن پيل دی.
- د ملي فضايي ستراتيژۍ د تطبيق په موخه پراويزې موخې، مقصدونه او لاسوهنې رامنځته شي.
- د وړ قوانينو د چوکاټ او مالي امتيازاتو په ملاتړ د ښاروالیو او حکومتولۍ د بېلابېلو کچو تر منځ همکاري په ځانګړې توګه د پلازمېنې (کابل) او (۵ نورو بندرونو) د سيمو له پاره.
- تعريف، تطبيق او څارنه د مرکزيت پاليسۍ او د نقش ملاتړ، مسؤليتونه، د پلان جوړونې ظرفيتونه او ښاري سرچينې تعريف، تطبيق او وڅارل شي.
- د ښار سيستمونه او د ښاري بندرونو مفهومونه رامنځته او ترويج شي.
- ايکو سيستم او ايکولوژيک خوځښت د مهمو فضايي عناصرو په توګه په پام کې ونيول شي او دغه ليدلورې د ملي فضايي ستراتيژۍ په رامنځته کولو کې مدغم شي.

د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام د ښاری لومړيتوب د ملی پروګرام په انکشاف کی کمک کوی چی دا به را روانه لسيزه کی د افغانستان د ښاری لومړيتوب برخه وی دی لومړيتوبونو کی به د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام ۵ ښاری زونونو او ۲۰ ستراتيژيکو ولسواليو ښاروالی تحليل او تجزيه کيژی چی مهم معلومات او دقيق ارقام به لاس ته راشی اود موثری پاليسي او ملی پروګرامونو په ترتيبولو کی به وړاندیزونه وشی .

UN-HABITAT
FOR A BETTER URBAN FUTURE

© ۲۰۱۶ دغه مباحثي پاڼه يوازی د غير تجارتی موخه لپاره د ملګرو ملتونو د بشر د ميشته کيدنی پروګرام په ليکل شوی ژمنی سره امکان لری چی تکثير، انتقال او يا د بيا پيدا کيدو سيستم کی وساتل شی. کوم تعريفات، څېړنه، نتيجه ګيری او سفارشونه په دی نشريه کی د ملګرو ملتونود ميشته کيدنی پروګرام د لارښوونی شورا ، د دی پروګرام د غړو هيوادونو او يا د افغانستان، استرليا او انګلستان حکومتونو د نظرياتو ښکارندونی نه دي.